بسم الله الرحمن الرحيم

## د پولیسو له لوري د یوه ځوان وحشیانه شکنجه

د ۲۰۲۲م د جولای په ۲۷مه، ۱۷ کلن هادي ابو عطاء الله د امریکا د «ایلي نویز» ایالت په اوک لاون ښار کې درېیو پولیسو په وحشیانه ډول وواهه. د پېښې د شاهدانو له لوري په شوې ویډیو کې ښکاري چې هلک سټرې ښکاري، ټینګ نیول شوی، پولیس یې مخ پر ځمکه موښي، پر سر او پښو یې پر له پسې په سوکانو وهي. هادي اوس په روغتون کې دی، پوزه یې ماته ده، ورمږ یې ټرلی او داخلي خونریزي لري. د اوک لاون ښار د پولیسو مشر د خپلو افسرانو د دغه کار دفاع کړې او ویلي یې چې دوی هغه کار کړی چې ورته روزل شوي. پرته له دې چې د یوه کوچني هلک پر وړاندې د پولیسو د تخلف ادعا ته پام وکړو، د پولیسو د کمرو له لوري ثبت شوې ویډیو کې د دوی عدالت ښکاره دی.

موږ د هېواد په ګوټ ګوټ کې د پولیسو د دا ډول کړنو شاهدان وو، چې پر لړکیو برید کوي او له ځانګړو تبعیض پاروونکو لارو کار اخلي. په اوک لاون او د شیکاګو شاوخوا سیمو کې ډېر مسلمانان اوسیږي. په وروستیو څو کلونو کې موږ د قانون پلي کوونکو له لوري د نژادي او مذهبي تبعیض د ډېرو پېښو، نا قانوني څار او نظارت او ځورونو شاهدان وو.

د دا ډول پېښو په ډېرېدو باید د نژادي نابرابرۍ یوه ټولنیزه موضوع وڅېړل شي؛ هغه د پولیسو له لوري نژادي نابرابري، وحشت او د انتخابي قانون پلي کول دي چې په امریکایي او بله هره ټولنه کې د بشري نظامونو له لوري تعبیه شوې. د دې موضوع د اثبات لپاره د نورو ارقامو او شمېرو ثبتولو ته اړتیا نشته. دا ډول پېښې هره ورځ لیدل کېږي، د «جورج فلوید» له چیغو «ساه نه شم اخیستی!» څخه نیولې د هادي تر داغلې څېرې.

موږ مسلمان مېشتې ټولنې ته سپارښتنه کوو چې د پولیسو د وحشت پر وړاندې راپورته شي او د هادي او بل هر قرباني لپاره عدالت وغواړي. موږ د پولیسو په کړنو کې بدلون، د مجرمو پولیسو ایستل او د قانون پلي کوونکو ارګانونو له لوري حساب ورکول غواړو.

په پای کې موږ باید د یوې همغږې او له نژادي تبعیض څخه پاکې ټولنې په اړه د اسلام دریځ ترویج کړو او د قانون پلي کوونکو له لوري له زور او ځواک څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخه ونیسو. یوازې اسلام په خلکو کې نژادي توپیرونه، نژادپالنه او طبقه بندي له منځه وړي او ټول خلک سره راټولوي. اسلام شکنجه او ناوتریخوالی منع کوي، د خلکو او چارواکو تر منځ مینه او خواخوږي رامنځته کوي. اسلام مسؤل کس ته د خلکو د چارو د سمبالولو مسولیت ورپه غاړه کړی دی. دا مسولیت د هغه چوپان مسولیت ته ورته دی چې د خپلې رمې ساتنه کوي او په ناحقه یې نه وهي.

**حزب‌التحریر-امریکا**

**ژباړن: حبیب الله حبیب**

**۱۴۴۳هـ.ق د ذولحجې ۳۰مه**

۲۰۲۲م، د اګېسټ ۲۹مه